ISSUE 84 JUNE 2024

خانه نو نوی کور

# New Home

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

**A news service for Afghans in America**

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture.
It's reported and written by Hussain Ali Haidari.




Photo Credit: AP

# افغان ښځې د طالبانو د حکمونو په اور کې

- په افغانستان کې د نجونو درې میلیارده د ښوونځیو ساعتونه ضایع شوي دي
- د نجونو محروموول د زده کړو له حق څخه ښکاره سرغړونه ده
- نړیواله ټولنه باید د افغان نجونو ملاتړ ته دوام ورکړي

Illustrator Credit: CVT

## افغان ښځې د طالبانو د حکمونو په اور کې

افغانستان یو داسې هېواد دی چې له ۳۲ میلیونو ډېر نفوس لري.چې د جملې څخه ۴۹ سلنه یې ښځې او ۵۱ سلنه یې نارینه دي. وروسته له هغه چې طالبانو د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵ نېټه پر افغانستان واک تر لاسه کړ، ښځې په نښه او ددغې ډلې لخوا څخه ښځې د سیستماتیک توهین، تبعیض او تاوتریخوالي سره مخامخ شوې. طالبانو له ۵۰ څخه د زیاتو تبعیضي او د ښځو ضد لیکلي او شفاهي فرمانونو په صادرولو سره په مختلفو پلمو ښځې له مختلفو ټولنیزو برخو څخه شړلي او د کور په څلورو دیوالونو کې یې بندیانې کړې دي. د طالبانو ښځې د کار کولو حق، ټولنیز شتون، تعلیم، د بیان ازادي او په سیاسي واک او مدني فعالیتونو کې د ګډون حق په ګډون له ټولو بشري حقونو او ګټو څخه بې برخې کړې.

د دغو فرمانونو څېړنه ښيي چې د ښځو ضد دغې ډلې تر کومه حده افغان مېرمنې ځورولې دي. دا حکمونه په لاندې څلورو کټګوریو ویشل کیدی شي:

### له ښوونې او روزنې څخه د ښځو محرومیت

د ښوونې او روزنې له حق څخه د ښځو بې برخې کول په افغانستان کې د طالبانو د شتون یوه له ناوړه پایلو څخه وه. وروسته له هغه چې طالبان واک ته ورسېدل، د ۱۴۰۰ هـ ق کال د حوت په اتمه یې نجونې له شرعي محرم پرته بهرنیو بورسونو ته له ورتګ څخه منعې کړې او د لومړي تعلیمي کال په پیل کې یې د ۱۴۰۱ کال د حوت په څلورمه یو فرمان صادر کړ. هغه حکم چې پر بنسټ یې هیڅ نجلۍ حق نه لري چې له شپږم ټولګي څخه لوړې زده کړې وکړي.

د ۱۴۰۱ کال د ثور په دریمه د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت یو فرمان صادر کړ او په پوهنتونونو کې یې د هلکانو او نجونو تر منځ د زده کړو ورځې بېلې کړې. همدارنګه په ۱۴۰۱ هـ ق کال کې د مطلوبو علمي څانګو د انتخاب حق په نجونو محدود شو. د ۱۴۰۱ کال د حمل په لومړۍ او دریمه طالبانو د ښځینه محصلینو د فراغت په مراسمو کې د ګډون مخه ونیوله او په غزني کې یې ښځو ته د سیم کارتونو اخیستلو مخه ونیوله. د همدې میاشتې په ۳۰ مه د طالبانو د حکومت مشرتابه یو حکم صادر کړ چې تر بل خبرتیا پورې دې پوهنتونونو ته د نجونو د تګ مخه ونیول شي.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**

**ادامه ...**

د ۱۴۰۱ کال د وږي په ۲۹ د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت سرپرست ندا محمد ندیم په یوه رسمي اعلامیه کې په رسمي ډول پوهنتونونو ته د نجونو د ننوتلو بندیز اعلان کړ. د ۱۴۰۱ کال د جدي په لومړۍ نېټه د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت ټولو پوهنتونونو ته امر وکړ چې د ښځینه محصلینو د مقالو له منلو ډډه وکړي او پوهنتونونو ته د ښځینه استادانو، کارکوونکو له ننوتلو مخه ونیسي. همدارنګه په دې میاشت کې د یو څه مودې لپاره دولتي پوهنتونونو ته د نجونو د ننوتلو مخه ونیول شوه. پر دې سربېره د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت د ۱۴۰۱ کال د لیندۍ په اتمه د یوه لیک په خپرولو سره له ټولو خصوصي پوهنتونونو وغوښتل چې د ښځینه محصلینو له استخدام څخه دې ډډه وکړي. د ثور په ۱۴۰۲ کې د طالبانو د عامې روغتیا وزارت یوه اعلامیه خپره کړه او اعلان یې وکړ چې له پوهنتونونو څخه د ښځینه ډاکټرانو د وتلو ازموینه هم منع ده. پر دې سربېره د ۱۴۰۲ کال د زمري د میاشتې په ۳۰ مه نېټه د طالبانو د امر باالمعروف زارت یوه اعلامیه خپره کړه، چې خصوصي تعلیمي مرکزونو ته یې د نجونو له تګ څخه منع کړې وه. دغه راز دغه وزارت د ۱۴۰۲ کال د اسد په ۱٦امه، د یوه لفظي حکم له لارې اعلان وکړ، چې په ځینو ولایتونو کې له لسو کلونو څخه زیاتې نجونې او له لس کلنۍ څخه د کم عمر لرونکې نجونې ښوونځیو ته د تلو اجازه نه لري.

بالاخره د طالبانو د دې تبعیضي تګلارې په پلي کولو سره له درې میلیونو څخه زیاتې نجونې ښوونځیو او پوهنتونونو ته له تګ څخه منع شوې. د شمېرو له مخې تر ۲۰۱۸ کال پورې ۳،۸ میلیونه نجونې او ښځې په زده کړو بوختې وې او په پوهنتونونو کې د نجونو شمېر ۳۸ ته لوړ شوی دی. خو په افغانستان کې د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق یونیسف وایي، په افغانستان کې له شپږم ټولګي څخه پورته د نجونو لپاره د ښوونځیو د تړلو په ۱۰۰۰مه ورځ وایي چې په هېواد کې د ښوونځیو ۳ میلیارده ساعتونه ضایع شوي دي. د یونیسف اجرایوي مشرې کاترین رسل په یوه بیان کې دغه ورځ د « خواشینۍ او اندېښمنونکي پړاو» په توګه یاده کړه. اغلې رسل زیاته کړه: "د یو نیم ملیون نجونو لپاره سیستماتیک محرومیت نه یوازې ښوونې او روزنې ته د لاسرسي له حق څخه ښکاره سرغړونه ده، بلکې فرصتونه کموي او د دوی رواني روغتیا خرابوي."

د یونیسف اجرایوي رییس د طالبانو له حکومته غوښتي چې انجونو ته دې سمدستي د زده کړو د بیا پیل اجازه ورکړي. په اعلامیه کې له نړیوالې ټولنې هم غوښتل شوي، چې په دې مسله کې ښکېل پاتې شي او د هغو نجونو ملاتړ وکړي، چې تر بل هر وخت مرستې ته اړتیا لري. د بشري حقونو د سازمانونو په وینا، په افغانستان کې د طالبانو د بیا واکمن کیدو راهیسې، له ۷۰ څخه زیات فرمانونه، لارښونې او بیانیې او همدارنګه سیستماتیک اقدامات د ښځو په تعلیم او کار باندې پراخ محدودیتونه وضع کړي دي.